کاروبار
۴ مخ

# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af


دوشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۱مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ دویمه | ۷۵۵مه ګڼه

## پاناسونیک

پاناسونیک د نړۍ په کچه د الکترونیک وسایلو د تولید په برخه کې وتلی نوم لري، چې کلنی عاید یې ۷،۸۴۶ تریلیونو ډالرو ته رسېږي او په ټوله نړۍ کې ۵۸۰ څانګې او ۳۳۰ زره کارکوونکي لري.




## کرنې وزارت: په پکتیا کې د زعفرانو ۲۱ نندارېزې کروندې جوړېږي



د کرنې او اوبو لګولو وزارت وایي، په پکتیا ولایت کې د زعفرانو ۲۱ نندارېزې کروندې جوړېږي. د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي چې یادې نندارېزې کروندې به په مرکز، احمد اباد، سیدکرم، شواک، ګرده څېرۍ او وزې ځدراڼ ولسوالیو کې د زعفرانو د تولید د زیاتوالي او دودولو په موخه جوړ شي.

د نوموړي په وینا، د یادو سیمو بزګرانو ته د زعفرانو د پیازو د وېش لړۍ هم پیل شوې چې هر بزګر ته ۵۰۰ کیلو د زعفرانو تخم ورکول کېږي. د کرنې وزارت چارواکي وایي، زعفران په لږه ځمکه کې ډېر حاصل ورکوي، د اوبو اړتیا یې کمه، کرنیزې چارې یې اسانه او د پکتیا اقلیم ورته ښه مناسب دی.

د زعفرانو د کښت برخه کې دا هڅونې داسې مهال دي، چې روان کال د دویم ځل لپاره افغان زعفرانو د کیفیت له پلوه په نړۍ کې لومړی مقام خپل کړ.

# په ادارو کې پراخ فساد او د ولسمشر غبرګون؛

## ولسمشرغني: د فساد مخه ونیسئ، نړیوالو همکارانو ته مو نور مه شرموئ



۳

### له روانو جګړو وروسته به سوله ارزښت ونه لري

۲ مخ

### پخواني دودونه او اوسني پرمختګونه

۲ مخ

### کمپاین ملی تسریع مذاکرات صلح؛ نگاهی به وضعیت امنیتی و بن‌بست مذاکرات صلح

۳ مخ

## د بشري حقونو کمېسیون: روان کال د ملکي افغانانو مرګ ژوبله ۸۰ سلنه ډېره شوې

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په خپل تازه راپور کې وايي چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په دغه هېواد کې۵۳۲۲ تنو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې دغه شمېرې د تېر کال په پرتله ۸۰ سلنه زیاتوالی ښیي.

دغه کمېسیون په خپل راپور کې ویلي، چې د روان زېږدیز کال له جنورۍ میاشتې نه تر جون پورې ۱۶۷۷ ملکیان په وسله والو نښتو کې وژل شوي او ۳۶۴۴ تنه نور ټپیان شوي‌دي.

د بشري حقونو کمېسیون زیاتوي، چې په یادې مودې کې ۱۵۴ مېرمنې، ۳۷۳ ماشومان وژل شوي او ۳۵۰ ښځې او ۱۰۸۳ ماشومان د جګړو له امله ټپیان شوي دي. د دغه بنسټ موندنې ښیي، چې د تېر کال په پرتله د ماشومانو مرګ ژوبله درې برابره او د ښځو مرګ ژوبله ۶۹ سلنه لوړه شوې ده. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي چې په ټوله کې ۵۶ سلنه مرګ ژوبله طالبانو، ۱۵ سلنه دولتي ځواکونو، اووه سلنه د داعش ډلې او ۲۲ سلنه نا څرګندو عاملینو اړولې ده. د یاد کمېسیون په وینا، د ماینونو چاودنې، موټر بمونو، هدفي وژنو، راکټي بریدونو، ځانمرګو بریدونو او د ځمکنیو نښتو له امله ملکیانو ته مرګ ژوبلې اوښتي دي. تر دې دمه وسله والو طالبانو او د داعش ډلې د دغه نوي خپور شوي راپور په اړه څه نه دي ویلي، خو حکومت ویلي چې په عملیاتو کې یې د ملکیانو خوندیتوب په لومړیتوب کې دی.

## حامد کرزی: د نړیوالې ټولنې له راتګ وروسته، امریکا په لوی لاس طالبان جګړې ته اړ کړل



۲ مخ

## با افتادن بندرگاه تجاری به دست طالبان، بهای مواد اولیه و اقلام ضروری بالا رفته است



با افتادن هفت بندرگاه تجاری به دست طالبان در مرزهای افغانستان، بهای مواد اولیه و اقلام ضروری بالا رفته است. سید عبدالعزیز ۴۰ ساله، که در منطقه زیر کنترل طالبان در هرات زندگی می کند، گفت که بهای مواد غذایی و سوخت به گونه چشمگیری افزایش یافته است.

او خرچ خانواده هشت‌نفری خود را تأمین می‌کند می گوید: «در گذشته کار پیدا می‌شد، اما در حال حاضر کارها متوقف است. من به عنوان یک کارگر روزمزد کار می کنم. گاه کار پیدا می‌شود و گاه نمی‌شود. نهادهای کمک‌رسانی هم بسته شده و کمک نمی‌کنند. در شب اگر غذایی باشد برای روز حیران می‌مانیم. از سوی دیگر جنگ است مردم از ترس از خانه‌های خود بیرون شده نمی‌توانند.»

در عین حال فضل رحمان، رئیس اتحادیه مواد خوراکی می گوید که قیمت یک بوری آرد پیش از این ۱۵۰۰ افغانی بود، اما اکنون به ۱۷۴۰ افغانی افزایش یافته است. قیمت یک لیتر روغن نیز از ۳۶ افغانی به ۶۳ افغانی افزایش یافته است.

وی گفت یکی از دلیل‌های افزایش قیمت‌ها این است که تاجران مجبور به پرداخت مالیات جداگانه به طالبان و دولت شده‌اند. اما یونس مومند، معاون اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان می گوید که کنترل طالبان بر بندرهای مرزی، افزایش بهای آرد در قزاقستان، افزایش ارزش دالر در برابر افغانی و ادامه جنگ بر بهای کالاها نقش دارد.

کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### له روانو جګړو وروسته به سوله ارزښت ونه لري


د هرات، هلمند، کندهار او ځو نورو ولایتونو له مرکزونو او ښارونو د سختو جګړو خبرونه ورکول کېږي. په دغو ښارونو کې د طالبانو او دولت تر منځ سختې نښتې شوې دي، چې پکې دواړو اړخونو ته د مرګ ژوبلې تر څنګ، ملکي وګړو ته هم درنه مرګ ژوبله اوړي. طالبان په ښارونو کې جګړه کوي او د خلکو کورونه او کوڅې د جګړې لپاره کاروي، دولت هم همدا کار کوي او له پاسه پر ښارونو هوایي بریدونه او بمبارۍ کوي. وېره دا ده چې که دا حالت دوام وکړي، ډېرې ناوړه پایلې به ولري. په ښارونو کې جګړه له دې امله ملکي وګړو ته ډېره مرګ ژوبله اړوي چې په کمه سیمه کې ډېر خلک اوسېږي او د کلیوالو سیمو په شان غرونه، باغونه او نور پټنځایونه هم نشته چې خلک پکې خوندي شي. له همدې امله ملکي وګړو ته درنه مرګ ژوبله اوړي.
له بله اړخه ښارونه ورانېږي، کاروبار پکې په ټپه درېدلی دی، برښنا نشته، مخابراتي خدمتونه له ستونزو سره مخ دي، د خوراکي او لومړنیو توکو پلورنځي تړل شوي، خلک له اقتصادي ستونزو او لوږو سره مخ دي او په واقعي مانا دا ښارونه د یو ستر بشري ناورین لوري ته روان دي. که حالت همداسې دوام وکړي، زموږ ښارونه به د سوریې د ښارونو له برخلیک سره مخ شي. په ښارونو کې دا جګړه په هېڅ ډول نه توجیه کېږي او نه هم ښارونه د یو بل د ماتولو ځایونه دي. له همدې امله پکار ده چې په ښارونو کې دا جګړه ژر تر ژره ودرول شي.
دواړه لوري چې تل سیاسي جوړجاړي ته د تیارۍ ادعا کوي، باید درک کړي چې همدا اوس د سولې وخت دی او په ښارونو کې له روانې جګړې وروسته به سوله نه مانا ولري او نه هم ارزښت. کله چې ښارونه کنډواله شي، خلک بې ځایه او کډوال شي، ووژل شي، لوږې او تندې پرې راشي او هر څه تباه شي، بیا نو سوله هېڅ مانا او ارزښت نه لري. سوله هغه وخت ارزښت لري چې د جګړې مخه ونیسي او په ځانګړې ډول د دې خونړۍ او ورانوونکې جګړې چې اوس زموږ ځینې ښارونه ورسره مخ دي او نورو ښارونو ته یې د لېږد وېره هم شته. که دا جګړه دوام وکړي او هغسې څه تکرار شي لکه په سوریه کې چې وشول، نو نه به بیا سوله اهمیت ولري او نه به هم د جګړې یو لوری د دې ورانۍ او تباهۍ له مسوولیت څخه ځان وژغورلی شي.
اوس د دې وخت دی چې د سولې خبرې په جدیت پیل شي، پرمختګ پکې وشي، اوربند وشي او سولې ته لاره هواره شي. ځومره ژر چې کېدلی شي او په هره معقوله قربانۍ چې کېدلی شي، باید په ښارونو کې دا جګړه ودرول شي. د ښکېلو لورو مسوولیت دی چې د خلکو او هېواد په اړه فکر وکړي، له ضد، شخصي ګټو، پردیو ته له وفادارۍ، د واک له مینې او له خپلو خلکو سره له دښمنۍ را وګرځي، جګړه ودروي او ژر تر ژره یوه داسې سوله وکړي چې جګړه ختمه کړي او افغانستان له تباهۍ او ورانۍ وژغوري.

# پخواني دودونه او اوسني پرمختګونه

▶ لیکنه: عبدالوحید وحید

هاغه پخواني دودونه اوس د تاریخ په پاڼو کې ثبت شوي دي. مونږ اوس د جګړو له برکته ډېر پرمختګونه کړي دي. هو! موږ په یوویشتمه پېړۍ کې د خورا زیاتو لاسته‌راوړنو ویاړ لرو .
سمه ده چې څلور لسیزې وړاندې حکومت پیاوړی و، خو بیا یې هم له ولس سره ګوزاره کوله، عدالت تامین و، کار تر ډېره اهل ته سپارل شوی و، مجازاتو او مکافاتو شتون درلود. له نړۍ سره په هسکه غاړه د متقابل احترام په کچه ژوند تېرول معمول وو.
اوس مونږ ډېر پرمختګ کړی دی. ارګ له دوو- دریو کسانو پرته ټول ملت د خیرک ادې هم نه ګڼي. طالبان خو ځانونه پتنګان ګڼي. د ولس په غم کې ځانونه نه شریکوي. قانون په کمزورۍ پلی کېږي. فساد ښه وده کړې ده، په خپل منځ کې ښه سره وژنو، کار نااهلو ته سپارل شوی دی او له نړیوالو سره د خیرات خورو په توګه ثبت یو.
پخوا به حکومت د هرچا مور او پلار بلل کیده، د حاکم د شفقت او ولس د اطاعت روحیه پیاوړې وه. که په پښتون مېشتو سیمو کې به حکومت په هیڅ ډول شتون نه درلود، نو بیا به هم د افغاني دود په اډانه کې د جنایتونو مخنیوی کیده.
اوس د حکومت او ولس تر منځ ستر واټن موجود دی. چارواکي د شفقت او ولس د اطاعت مادې نه پیژني. جنایتکاران او مفسدین ټوپکوال شوي دي. ګناه‌کار له بېګناه تورن څخه ژر له محبس څخه راوځي.
پخوا به که جرم کېده، نو په جرګه کې د فساد تصور هم محال کار و. د سترو جرمونو مرتکبینو ته ټولنیز دود دومره سخته سزا ورکوله، چې مجرم به د سزا د دروند بار په پورته کولو له زیاتو ستونزو سره مخ کېده. د جرم پور به یې پرې کاوه او یا به هم شپه په شپه له ټول فامیل سره سیمه پرېښوده چې بیا به یې هم ټول ژوند د مفرور په نوم تېراوه.
د ژوند په ټولو کړو وړو کې هر ډول اخلاقي انحرافات حتی بېځایه ناسته ولاړه بې ادبه خبره او سپک حرکات په ټولنیز دود کې جرم ګڼل کېده او سزا یې درلوده. له ټولو مهم دا چې د دغو سزاګانو مخالفت د شرم خبره وه، ځکه چې د حاکم او رعیت مشر او کشر تر منځ ترحم، احترام او د درنښت دود شتون درلوده.
اوس نو که څوک کوم جنایت تر سره کوي، مستقیماً له جنګي اړخونو سره ملګري کېږي او همدغه ملګرتیا ورته د جنایت جواز هم دی.
که پخوا به د قومونو تر منځ جګړه ونښته، نو یوه ښځه د جنګي ډلو منځته راوته. پلو به یې دواړو خواوو ته خپور کړ، پړونی به یې وغوړاوه او یا به کوم سید، پیر یا ملا د جګړې ډګر ته ځان را ورساوه، نو بیا ډز کول د بې غیرتۍ خبره وه.
اوس نو جګړو ډېر پرمختګ کړی دی، که ټوله نړۍ هم راشي مونږ سره وژنو، د جنګ بندي دود زمونږ په قاموس کې اصلاً نشته.
که دښمني پالل او د کسات اخیستلو دود هم شتون درلود، خو د سپک تېري په مقابل بالمثل عمل د شرم لامل نه؛ بلکې په ځینو مواردو کې جنایت ګڼل کیده. یانې که کوم سړي به د چا خور او لور ته په سپک نظر وکتل، نو له مجرم سره د انتقام په توګه بالمثل عمل جنایت او د نه ښښنې عمل ګڼل کېده. دښمن د خلکو د ګڼې ګوڼې له ځایه لرې وژل کیده، د وژل شوي دښمن سترګې او خوله پټول وربانديې څادر غوړول او د څادر په څنډو د کاڼي ایښودل دود او د شهامت نښه وه.
اوس د وژونکي لپاره هیڅ مانع نشته. هر څوک په هر ځای او هر وخت وژلای شي. په مسجد، هدیره، جنازه او عمومي غونډو کې د دښمن وژل، په مخ باندې د دښمن ویشتل، د وژل شوي دښمن د جسد سپکاوی د شرم او پېغور خبره وه او پور یې درلود.
اوس خو مونږ ډېر پرمختګ کړی دی. رب ته په سجده نسکور انسان، په محراب کې ولاړ امام او په منبر باندې ناست خطیب هم وژنو، د ښځو او ماشومانو وژل او توجیه هیڅ ستونزه نه ده. وژل شوي دښمن ته له اور اچولو او بې عزتۍ کولو وروسته هم هسکه غاړه ګرځو. مونږ اوس اتلان یو.
خدایداد اکا یو سپین ږیری کوچی و. د جمعې د لمانځه لپاره به یې زمونږ کلي ته درې ساعت پیاده لاره وهله. شپه به یې زمونږ په کور وه. زمونږ د ماما خپل و. زمونږ مور ته به یې د پخوانیو دښمنیو کیسې کولې. وای پنځلس کاله د ورور په قاتل پسې وګرځېدم، خو مناسب ځای کې لاس ته نه راته. یوه ورځ چا راته وویل چې نن له ځایو څخه د سرکي کنډو په لاره راځي. په سرکي کنډو کې پټ ورته کېناستم. کله یې چې سر راښکاره شو، ډېر خوشاله شوم خو هغه مهال مې په سترګو توره شپه راغله او له ځان سره مې وویل چې خدایداده! په خوله دې خاورې واوښتې چې کله مې د دښمن تر شا ښځه ولیده، چې ورسره را روانه وه.
د تېرو څو لسیزو جګړو په اوږدو کې مو قومي مخور، د جرګو او مرکو مشران ووژل شول او یا مړه شول. قومي ځلې مو مات شول. قومي پرېکړې اوس نه کېږي. هغه ویاړلي دودونه مو له لاسه ووتل. که د افغاني دود د ختمولو په لاملونو غور کوو او یا هم د بېرته را ژوندي کولو هڅه کوو، نو وژل کېږو.
اوس زمونږ ټولنه پاشل شوې ده. مونږ د یوه متحد ملت اړتیاوې او ځانګړتیاوې نشو پوره کولای. اوس مونږ له نړۍ سره سیالي نشو کولای. اوس مونږ نړیوالو مرسته محتاجه ملت یو. اوس زمونږ د الوت وزرونه مات شوي دي، اوس مونږ د خپل ورور وژل ویاړ ګڼو، اوس مونږ د هوا په نیلي سپاره کله هم حساب نه کوو چې څوک مو وواژه، څوک مو بوره کړه، کونډه او یتیمان څوک دي او اوس مونږ نه په مړو او نه هم په ژوندیو کې حسابېږو. هغه پخوانی ملي یووالی مو نشته. چا په ژبو چا په سمتونو، چا په شیعه او سني او اوسنیو خو په قومونو، جنس او قشرونو سره وویشلو. د تېرو څلورو لسیزو یرغلونو او خپلمنځي جګړو له امله زمونږ ګډ ملي ارزښتونه له منځه تللي، مشترکات مو ورک شوي او د جنایتونو ګراف لوړ شوی دی. د راټولېدو مرکزیت مو ختم شوی، د حاکمیت ځلي مو نړېدلي، د اولی الامر د اطاعت، د مشرانو د شفقت او د کشرانو د درنښت دودونه مو له پاسه څخه ښکته او له ښکته څخه پورته له منځه تللي دي.
ټولنه مو د راشه درشه په دودونو کې د معنوي اړخونو پر ځای د مادیاتو پر بنسټ ولاړه ده. د دوستۍ، اشنایۍ، خپلوۍ او حتی د وروروليۍ معیارونو معنویت مو له لاسه ورکړی دی. د ژور تأسف ځای دی چې مونږ له غرب څخه د علم پوهې، ټکنالوژۍ او د یووالي لپاره د تاکتیکونو د زده کولو پر ځای یوازې په مادي اړخ باندې د تکیه کولو کلتور خپل کړی دی. د معنویت او مادیت تر منځ اړین انډول مو د مادیت په ګټه دروند شوی او متأسفانه د معنوي اړخ د بایللو له امله مو ټولنیز حیثیت ختم شوی دی.
له چا څخه پوښتنه وکړم چې نن ولې د پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، سادات، عرب او نورو په نومونو باندې ویشلی ولس یو؟ ولې د جنس، قشر او نورو مختلفو عنوانونو باندې سره ویشلی او پاشلی ملت ګرځېدلي یو؟
نن سبا د سیاست په مارکېټ کې تازه رنګونه د جمهوریت او امارت دي. د دواړو رنګونو د پلویانو تر منځ د مشترکاتو د لټون پر ځای هره ډله د پیوستون پر ځای د بېلتون، د تفاهم پر ځای د تقابل او د ژغورلو پر ځای د یو بل د وژلو لوری نیسي. څو لسیزې تېرې شوې چې زمونږ تر منځ د جګړو کورني اړخونه د خپلمنځي سولې لپاره د پلان په جوړولو کې پاتې دي، خو د حیرانتیا خبره دا ده چې د جګړو لپاره خورا پیچلي پلانونه جوړولای شي.
پوښتنه دا ده چې که جګړه نه وي، د اسلامي نظام مخه به څوک ونیسي؟ د قانون پلي کیدل به څه ستونزه ولري؟ که قانون پلی شي، نو د فساد مخنیوی، کار اهل کار ته سپارل، د جرم د مرتکب تعقیب، له قانون څخه او د معافیت کلتور ته د پای ټکی ایښودل ناشونی کار دی؟
دلته روانه جګړه ډېرو قانون ماتوونکو ته له عدلي او قضایي تعقیب څخه معافیت ورکوي. جګړه په نظام او د طالبانو په لیکو کې دننه او بهر خورا پیاوړې ریښې لري. که پخواني افتخارات تر لاسه کول غواړو، نو د زغم ،تحمل او له دښمن سره د ګډ ژوند او کار کولو لپاره پیاوړې اراده، مضبوط عزم او غیرمتزلزل هوډ ته اړتیا ده. هغه څه چې مونږ یې د اوس لپاره په خپله ټولنه کې نه وینو.
خپله سره وژنو او دنیا مو ننداره کوي
پاتې له کاروانه شوو رقیب مو تماشه کوي

# حامد کرزی: د نړیوالې ټولنې له راتګ وروسته، امریکا په لوی لاس طالبان جګړې ته اړ کړل



پخوانی ولسمشر حامد کرزی وایي، امریکا په تېرو دوو لسیزو کې په افغانستان کې له ترهګرۍ سره په مبارزه کې ناکامه وه. نوموړي له رشیه ټوډې سره په تازه مرکې کې ویلي، چې د طالبانو له سقوط او افغانستان ته د نړیوالې ټولنې له راتګ وروسته، ډېرو طالبانو سوله ییز ژوند غوره کړ، خو د نوموړي په خبره، امریکا دوی په زور جګړې ته اړ کړل. کرزی زیاتوي، امریکا هغه مهال له ځینو سیمه ییزو عناصرو سره په ګډه د طالبانو پر کورونو بریدونو ته دوام ورکړ، له همدې کبله دوی اړ شول چې هېواد پرېږدي او بېرته وسله‌والې جګړې ته مخه کړي. د نوموړي په خبره، امریکا د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته له نړیوالو سره په ګډه افغانستان ته له ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه راغلې وه، خو په خبره یې، دغه هېواد د ترهګرو د خوندي پټنځایونو د له منځه وړلو پر ځای د افغانانو په کلیو او بانډو هوایي او ځمکني بریدونه وکړ، چې له کبله یې زرګونو بې ګناه افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. هغه پر طالبانو هم غږ وکړ، چې له روانې افغان وژنې او د عامه تاسیساتو له ورانولو لاس واخلي او د تاوتریخوالي پر ځای دې سولې ته لومړیتوب ورکړي. د نوموړي په خبره، په سیمه ییز حالات په چټکۍ سره د بدلېدو په حال کې دي او که طالبان له روان تاوتریخوالي لاس وا نه خلي، افغانان به یې پر وړاندې ودرېږي.
حامد کرزي دغه راز پر چین، روسیې، هند، ایران او نورو سیمه‌ییزو قدرتونو هم غږ وکړ، چې په افغان سوله کې خپل رغنده رول ولوبوي او په سیمه کې د امریکا د ناوړه پلانونو پر وړاندې ودرېږي.

# کمپاین ملی تسریع مذاکرات صلح؛ نگاهی به وضعیت امنیتی و بن‌بست مذاکرات صلح

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

در جریان ماه اخیر شاهد کمپاین گسترده‌ی رسانه‌ای بودیم که اساساً هدف آن خواست ملت افغانستان از طرف‌های درگیر جنگ، توقف بی‌درنگ خونریزی و تسریع روند گفتگوهای صلح بود. این کمپاین به تاریخ ۱۳ جون از سوی فعالان مدنی و کاربران شبکه‌های اجتماعی آغاز و ده‌ها هزار افغان در داخل و خارج از کشور زیر هشتگ‌های #Stop Afghan War و #SpeedupPeaceTalks در آن اشتراک ورزیدند. در کنار فعالان مدنی و کاربران شبکه‌های اجتماعی، علماء و شخصیت‌های ملی نیز با انتشار پیام‌های ویدیویی و نویشتاری خویش، صدای خویش را برای تسریع روند گفتگوهای صلح بلند نموده و در این کمپاین اشتراک ورزیدند. این کمپاین از متن جامعه برخاسته و صدای تمام ملت افغانستان برای تسریع روند گفتگوهای صلح را منعکس می‌سازد.

در این نویشتار کوتاه، مختصراً به وضعیت امنیتی کشور، بن‌بست کنونی در روند گفتگوهای صلح و خواست‌های اشتراک کننده‌گان کمپاین ملی تسریع گفتگوهای صلح پرداخته شده است.

**نگاهی به وضعیت امنیتی کشور**

کمپاین ملی تسریع روند مذاکرات صلح به دلیل شدت جنگ‌ها و خونریزی جاری در کشور و در عین زمان توقف گفتگوهای صلح آغاز شده است. ملت افغانستان اساساً با اعلام خروج نیروهای خارجی از کشور توقع کاهش خشونت‌ها و تسریع روند مذاکرات بین الافغانی صلح را داشت، ولی بالعکس وضعیت امنیتی کشور با اعلام خروج کامل نیروهای خارجی بیش از پیش وخیم‌تر شده و حتی تشویش‌ها از آغاز خانه‌جنگی‌های که افغان تجربهٔ تلخ آن را دارد، بیشتر شده است.

از یک‌سو در حدود دو ماه گذشته بیش از ۱۰۰ ولسوالی از کنترول دولت خارج گردیده و زیر تصرف طالبان درآمده و یا هم میان طالبان و دولت دست به دست شده؛ و از سوی دیگر، روند ملیشه‌سازی زیر نام بسیج مردمی در برابر طالبان به حمایت دولت آغاز گردیده که شمار زیادی افغان‌ها شکل‌گیری چنین ملیشه‌ها را خطر بالقوه برای امنیت افغانستان در آینده می‌پندارند. اینکه مردم چگونه در برابر طالبان بسیج می‌شوند؟ چگونه تمویل و تجهیز می‌شوند؟ کی آنان را آموزش می‌دهد؟ و بالآخره وجود آنها در چند هفته پسین با عدم وجود آنها چه تفاوتی در وضعیت داشته است؟ این و پرسش‌های مشابه دیگری باعث نگرانی مردم گردیده است. از این‌رو، برخی اعضای ولسی جرگه نیز از این روند به شدت انتقاد کرده است و این روند ملیشه‌سازی را خطر جدی برای ثبات آینده کشور خوانده است.

با تشدید جنگ تلفات هر دو طرف درگیر جنگ و مردم ملکی نیز به شدت افزایش یافته است. بربنیاد گزارش ماهوار نیویارک تایمز از تلفات جنگ در افغانستان، در جریان ماه می بیش از ۴۰۰ تن از نیروهای افغان و حدود ۲۶۰ فرد ملکی در اثر جنگ و خشونت‌ها کشته شده و صدها تن دیگر زخمی شده‌اند. در جانب دیگر، هرچند آمار دقیق تلفات جنگجویان طالبان در دست نیست، اما ارگان‌های امنیتی حکومت افغانستان ادعاهای مبالغه آمیز در مورد تلفات طالبان به نشر می‌رسانند و روزانه از کشته شدن صدها تن از افراد طالبان خبر می‌دهند که در کل نشانگر افزایش تلفات هر دو جانب جنگ و غیرنظامیان است. در این میان برخی رویدادها و انفجارهای خونین و قتل‌های هدفمند نیز جریان دارد ولی مسؤولیت آنرا هیچ گروهی به عهده نمی گیرد.

به این ترتیب، از یک سو وضعیت فعلی امنیتی بیش از پیش خونبارتر شده و از سوی دیگر نگرانی از آینده به سطح ملی و بین المللی به شدت افزایش یافته است.

**بن‌بست مذاکرات صلح**

در حال حاضر عامل اصلی نگرانی ملت افغانستان این است که خلاف توقعات با اعلام خروج نیروهای خارجی از افغانستان، گفتگوهای بین الافغانی متوقف شده و چنان می‌نماید که هر دو جانب روی انحصار قدرت از طریق جنگ و غلبه می‌اندیشند. به همین دلیل، سرویس‌های استخباراتی امریکا، فرماندهان نظامی و اعضای کانگرس هشدار داده اند که دولت افغانستان بدون پشتیبانی نظامی امریکا قادر به ایستادگی در برابر طالبان نخواهد بود و از احتمال تسلط طالبان بر افغانستان تا شش ماه دیگر خبر داده است.

مذاکرات بین الافغانی صلح که حدود ۱۰ ماه پیش در دوحه قطر آغاز گردیده، تاهنوز هیچگونه پیشرفت ملموسی نداشته و هر دو طرف مذاکرات در طول این مدت منتظر تحولات در قضیه افغانستان به خصوص راه‌کارهای ایالات متحده در قبال افغانستان بودند. در روزهای پسین نیز رهبران افغان در سفر به ایالات متحده روی جلب حمایت نظامی امریکا برای مقابله با طالبان تمرکز داشتند. داکتر عبدالله رئیس شورای مصالحه ملی نیز در اظهارات اخیرش گفته است که در شرایط کنونی "دفاع از مردم" اولویت است نه صلح. وی می‌گوید که طالبان با تعلل در گفتگوهای صلح در پی وقت کشی اند. اما در جانب دیگر گمان بر این است که ماشین جنگی طالبان نیز طرفدار تمرکز روی گزینه نظامی است، ولی در عین حال طالبان جانب حکومت را متهم به سوء استفاده از مذاکرات صلح می کنند و می گویند که تیم مذاکراتی حکومت حاضر به گفتگوها نیست.

در کل، با توجه به تجارب گذشته هیچ جهتی از راه توسل به زور و گزینهٔ نظامی پیروز جنگ نخواهد شد وحتی اگر یک جهت جنگ از طریق فشارهای نظامی مسلط هم شود، هیچ گاهی باعث ثبات و استقرار در کشور نخواهد شد، بلکه ویرانی گسترده را به جا خواهد گذاشت. به همین دلیل توقع از جهت‌های درگیر پس از خروج نیروهای خارجی این بود که بجای تمرکز روی میدان جنگ، به گفتگوهای صلح تمرکز نمایند، ولی اکنون به نظر می‌رسد که هر دو طرف جنگ اراده قوی به راه حل مسالمت‌آمیز ندارند و تاکنون نیز ادبیات شدید جنگی میان آنان تبادله می‌شود.

**خواست‌های کمپاین ملی تسریع روند صلح**

فعالان مدنی و کاربران شبکه‌های اجتماعی در این کمپاین از جهت‌های درگیر خواستند که جنگ جاری را بی‌درنگ به پایان برسانند و روی مذاکرات بین الافغانی صلح تمرکز نمایند. آنان در برخی از شعارهای خویش تاکید ورزیدند که «صلح با جنگ بدست نمی‌آید» و «در جنگ جاری تنها افغان‌ها کشته می‌شوند».

در این شعارها از طرف‌های درگیر جنگ خواسته شده که هر دو طرف باید: «بخاطر توقف ریختن خون، جنگ را فوراً متوقف سازد»، «مذاکرات صلح به طور صادقانه و جدی دوباره آغاز گردد»، «بخاطر حسن نیت و اعتماد سازی از ادبیات جنگ طلبانه اجتناب گردد» و «از هر گونه تحرکات قومی و زبانی جلوگیری به عمل آید».

برخی فعالان مدنی نیز تاثیرات ناگوار جنگ را در نوشته‌های خویش به تصویر کشانده اند. به گونهٔ مثال، داکتر وحیدالله مصلح با انتشار عکس و پوست فیسبوکی یکی از اشتراک کننده‌گان کمپاین ضد جنگ به نام امید حبیبی نگاشته است: «این امید حبیبی است، دیروز زنده بود و برای زنده ماندن مبارزه می کرد، امروز شهید گردید، این جنگ چنین ما را می‌خورد...» امید حبیبی یک روز پیش از کشته شدنش در فیسبوک خویش نگاشته بود: «تمام عمر من و برادرانم در جنگ سپری شده است. دیگر نمی‌خواهیم عزیزان مانرا از دست بدهیم. این جنگ برنده و بازنده ندارد. لطفاً جنگ را متوقف سازید.» به این ترتیب، این کمپاین خستگی طاقت فرسای افغان‌ها از جنگ جاری را به تصویر می‌کشد.

اکثریت اشتراک کننده‌گان این کمپاین از رهبران سیاسی کشور خواسته اند که با فرصت به وجود آمده برای صلح برخورد مسؤولانه نمایند، در غیر آن به خصوص در صورت سقوط نظام، افغانستان به خانه‌جنگی و جنگ‌های داخلی خواهد رفت که در آن صورت به تمام طرف‌ها تاثیرات ناگوار آن خواهد رسید و وضعیت از کنترول بیرون خواهد شد. در کنار این، فعالان مدنی و کاربران شبکه‌های اجتماعی در رابطه به ترور علماء و فعالان صلح نیز به گونهٔ گسترده اعتراض کرده اند. در یکی از شعارهای این کمپاین گفته شده است: «جنگ را متوقف کنید، نمی‌خواهیم دیگر علماء و دانشمندان مانرا از دست بدهیم. در یک سال گذشته ۱۲۰۰ عالم دین در سراسر کشور ترور گردیده است. چه کسی پاسخگو است؟» در این بخش کمپاین به چهره‌های چون دکتور محمد ایاز نیازی، دکتور محمد عاطف، دکتور عبدالباقی امین، مولوی عزیز الله مفلح و سایر علماء و دانشمندانی که در یک سال گذشته به گونهٔ مرموز ترور گردیده و تاکنون عاملین هیچ یکی از آنها مشخص نگردیده، اشاره شده است.

این کمپاین رسانه‌ای نحوه‌ای از مبارزه و ایستاده‌گی بدون خشونت (Non-Violent Resistance) است که در تاریخ معاصر جهان دست‌آوردهای چشمگیر در راستای تامین عدالت سیاسی و اجتماعی داشته است که نمونه بارز آن مبارزهٔ مهاتما گاندی در شبه قاره هند است که در نهایت به این کشور کمک کرد تا استقلالش را در سال ۱۹۴۷ از بریتانیا به دست آورد. افغان‌ها نیز در حال حاضر جز اعتراض بدون خشونت راهی مؤثری دیگری برای تغییر وضعیت فعلی در پیش ندارند، چون جنگ جاری عملاً از افغان‌ها قربانی می گیرد و ممکن به نظر نمی‌رسد که گزینهٔ نظامی و جنگ نویدی خوشی برای افغان‌ها به بار آورد.نتیجه گیری کمپاین ملی تسریع مذاکرات صلح در حالی راه‌اندازی می‌شود که با اعلام خروج کامل نیروهای خارجی وضعیت امنیتی کشور بیش از پیش وخیم‌تر شده و تهدیدهای تازه‌ای برای امنیت و ثبات آیندهٔ کشور رونما گردیده است. توقف گفتگوهای بین الافغانی صلح و در عین حال شدت جنگ در کشور نگرانی‌های مبنی بر وخیم شدن وضعیت کشور را در پی داشته و چنان می‌نماید که هر دو طرف جنگ در تلاش انحصار قدرت از طریق زور و جنگ هستند، چون در دو ماه اخیر بیش از ۱۰۰ ولسوالی در سراسر کشور به دست طالبان سقوط کرده و در جانب دیگر ملیشه‌های قومی با حمایت دولت در نقاط مختلف کشور در حال شکل گیری اند؛ قضیه‌ای که تهدید جدی به امنیت و ثبات آینده کشور به حساب می‌آید و تجربه‌های تلخ گذشته‌ها را به یاد افغان‌ها می‌آورد.

با توجه به خواست‌های ملت به خصوص اشتراک کننده‌گان این کمپاین در مرحلهٔ کنونی، ملت افغانستان از جهت‌های درگیر جنگ توقع کاهش خشونت‌ها و تسریع مذاکرات صلح را دارد. با خروج کامل نیروهای خارجی از کشور عامل بزرگ جنگ جاری در کشور از بین رفته است و مشکلات متباقی به هیچ وجه از طریق جنگ قابل حل و فصل نیست، بلکه نیاز به مذاکره و تنازل در مواقف دارد. در غیر آن، نگرانی‌های جدی از جنگ‌های ویرانگر داخلی وجود دارد و در آن صورت صلح و ثبات در کشور با چالش جدی مواجه خواهد بود.

# په ادارو کې پراخ فساد او د ولسمشر غبرګون؛

## ولسمشرغني: د فساد مخه ونیسئ، نړیوالو همکارانو ته مو نور مه شرموئ



په حکومتي ادارو کې د پراخ فساد د موجودیت له کبله ولسمشر غني د کابینې په غونډه کې د دغو ادارو مشرانو ته خبرداری ورکړ، چې ژر تر ژره دې په ادارو کې د اوسني فساد مخه ونیسي او د نوموړي په خبره، د روان فساد له کبله دې دی نور نړیوالو همکارانو ته نه شرموي.

ولسمشر غني، دغه راز د ډېریو ادارو لخوا د معاشونو د ورکړې پر پروسې هم نیوکې وکړې او د یادو ادارو مشرانو ته یې سپارښتنه وکړه، تر څو د یوه منظم او شفاف سیستم له لارې پر خپل وخت د مامورینو د معاشونو د اجرا لپاره لاس پر کار شي او په دې تړاو دې له مالیې وزارت سره په ګډه خپلې هڅې چټکې کړي. د هغه په خبره: «معاشونه باید پر خپل وخت اجرا شي، چې اوس نه اجرا کېږي، که هره اداره د خپلو مامورینو معاشونه پر خپل وخت اجرا نه کړي، بیا دې ګیله نه کوي».

نوموړي دغه راز د کابینې غړو ته په خپلو خبرو کې وویل چې د افغانستان نړیوال ملاتړي او مرسته کوونکي هېوادونه د خپلو مرستو د ډاډمنتیا په موخه د شفافیت غوښتونکي دي، له همدې کبله هره اداره باید د فساد د مخنیوي او د شفافیت د تامین په موخه کوټلي ګامونه اوچت کړي. نوموړي دغه راز د مالیې وزارت له چارواکو وغوښتل چې خپل ټول پخواني حسابونه تصفیه کړي او په دغه وزارت کې دې د بیروکراسۍ فرهنګ ته پای ټکی کېږدي. ولسمشر غني له نورو وزارتونو او ادارو څخه هم جدي غوښتنه وکړه چې د بودیجې د مصرف په اړه دې اړوندو ادارو په خپل وخت راپور ورکړي ترڅو په دې سره د بودیجې د مصرف په برخه کې د فساد مخنیوی وشي. غني دغه راز وویل: « که نړیوالې ژمنې په خپل وخت او چټکۍ سره اجرا نه شي، له لاسه مو وځي، له همدې کبله مو باید په کار کې چټکتیا ته لومړیتوب ورکړو.» نوموړي همداراز دولتي ادارو ته سپارښتنه وکړه چې له خلکو سره د معلوماتو د شریکولو په برخه کې دې ټول پراته خنډونه له منځه یوسي، ځکه د هغه په خبره، معلومات د هېڅ اداري شخصي ملکیت نه دی او باید له خلکو سره شریک کړي.

ولسمشر غني داسې مهال په حکومتي ادارو کې د پراخ فساد له کبله خپل غبرګون ښکاره کوي، چې تر دې وړاندې هم ګڼو نړیوالو او کورنیو رسنیو د میلیونو ډالرو فساد په تړاو راپورونه خپاره کړي، خو د افغان چارواکو له ژمنو سره سره، حکومت د دغه فساد په مخنیوي کې پاتې راغلی دی.

## د کتـــاب خبـرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

زه پر دې نه پوهېدم چې مېرمن مې ژوندۍ ده که نه. او پر دې د پوهېدو هېڅ لاره مې هم نه درلوده (زما د بند په ټوله موده کې د لیک لېږلو او راتللو اجازه نه وه؛ خو په دې شېبه کې راته دا مهمه نه وه. پر دې پوهېدو ته مې هم اړتیا نه وه، په دې وخت کې زما د مینې، افکارو او زما د ښهې د تصویر زور هېڅ شي نه شوی ماتولای. که په دې شېبه کې پوه شوی وای چې مېرمن مې مړه ده، هم ښايي زما خوبونه نه وای مات شوي. بیا به مې هم د هغې فکر کاوه او زما ذهني خبرې اترې به همدومره خوندورې وای. ما پر خپل زړه لکه مهر ووهه، څکه مینه د مرګ غوندې زوروره ده.)

د دننني (مانوي) ژوند دغه قوت له زندانیانو سره دا مرسته کوله چې له بې ارزښتۍ، نارامۍ او خپل روحاني فقره وتښتي او تېر وخت ته پناه یوسي.

د تخیلي ازادۍ پر وخت به یې په تېر وخت کې چکرې وهلې، دا تېر وخت به دومره مهم نه و، بلکې ځینې عادي او جزيي پېښې به وې. د دوی دغه خپګان او زړه تنګوالي به دغو پېښو ته یو عجیبه ارزښت ورکاوه او عجیبه بڼه به یې خپلوله. د دوی نړۍ او وجود سره لرې وو، خو ذهن یې دا واټن واهه. زه په خپل ذهن کې په بس کې سپور شوی یم، د خپل کور لویه دروازه مې پرانیستې ده، ټلیفون مې ځواب کړی دی او برېښنايي څراغونه مې بل کړي دي. زموږ افکار ه زیاتره وخت پر داسې شیانو متمرکز وو او دې یادونو زموږ اوښکې څڅولای شوې.

د زنداني باطني ژوند به چې څومره ژورېده، هومره به یې د طبیعت هنر او ښایست تر پخوا ډېر ښه تجربه کاوه. په دغه اغېز کې به یې کله کله آن خپل تریخ او له سختو ډک حالت هېر کړ. که چا موږ د شویتز او باورین ترمنځ سفر کې لیدلي وای چې موږ د سالزبورګ پر غرونو تېرېدو او د ډبې له کړکۍ او سیخانو مو د لمر پرېوتو ننداري ته کتل، نو هېڅکله به یې دا فکر نه کاوه چې دا ګنې د هغو زندانیانو څېرې دي چې د ژوند تمه یې بایللې او د ازادۍ تمه ورسره ختمه شوې ده. ښايي له دې سره یا په همدې خاطر موږ د طبیعت هغو ښایستونو له ځان سره اخیستو چې ډېره موده ترې لرې وو او یادېده مو.

په زندان کې به هم کله کله چې یو بندي د بل ترڅنګ کار کاوه، هغه به یې د باوریا د لوړو ونو پر څوکو د لمر لوېدو ښایسته ننداري ته ورپام کاوه (لکه څنګه چې د ډیېر په انځورګرۍ کې ښودل شوی دی). دا هغه ځنګل و چې موږ به د وسلو پټه فابریکه جوړوله. یو ماښام موږ په خپله کوټنۍ کې پر ځمکه سترې ستومانه غځېدلي وو او د ښوروا کنډولونه مو په لاس کې وو، په دې وخت کې زموږ یوه زنداني ملګري کوټې ته رامنډه کړه، موږ ته یې وویل چې په منډه منډه میدان ته ووځئ او د لمر لوېدو ننداره وکړئ. موږ بهر ودرېدو، په اسمان کې مو خپرې ورېځې ولیدې چې د لوېدیځ ټول اسمان یې نیولی و او رنګ یې له نیلي ورو ورو سور ته اوښته. دې زموږ له خټینو کوټنیو سره ډېر تضاد درلود. د اوبو په ډنډونو کې د اسمان او ورېځو انځور ښکارېده. په دې ماښام هر څه ښایسته وو او موږ په چوپه خوله ورته کتل. تر دې ښایسته ننداري او چوپتیا وروسته یوه زنداني ناڅاپه بل ته وویل: «نړۍ دومره هم ښایسته کېدلای شي!» بل ځل مو په یوه جر (خندق) کې کار کاوه. د سهار وختي خړه خپره وه. پورته اسمان هم خړ و. له اسمانه خړه واوره را ورېدله. زموږ زندانیانو جامې خړې او شلېدلې وې او مخونه یې هم خړ ښکارېدل. زه بیا هم په ذهن کې له خپلې مېرمنې سره په چوپتیا لګیا وم او خبرې مې کولې، یا به مې د دې تدریجي مرګ د زغملو لپاره د یوه دلیل موندلو هڅه کوله.

**دوام لري...**

# پاناسونیک

**حشمت الله نوري**

پاناسونیک، د ماتسوشیتا الکترونیکي شرکت پخوانی نوم دی. دا څو ملیتي جاپانی شرکت دی، چې مرکزي دفتر یې د اوساکا ښار په کادوما کې دی. پاناسونیک شرکت، په ۱۹۱۸ کال کې د کونوسوکه لخوا د ماتسوشیتا په نامه جوړ شو. دوی د اوږدو کلونو لپاره د الکترونیک په برخه کې فعالیت وکړ. دوی د مخابراتي وسایلو د جوړولو په برخه کې مخکښ و. پانسونیک د جاپان د الکترونیکي شرکتونو په منځ کې موقعیت لري. سوني، هیتاچي، شارپ، توشیبا او پاناسونیک د جاپان تر ټولو سترو الکترونیکي شرکتونه دي. دوی نه یوازې په جاپان کې، بلکې په نړۍ کې هم د سترو الکترونیکي شرکتونو په نامه مشهور دي. سترې الکترونیکي دستګاوې او وسایل په همدې شرکتونو کې جوړېږي.

دغه شرکت په ۲۰۱۲ کال کې په نړۍ کې د ټلوېزیون تر ټولو ستر تولید کوونکی شرکت و. دوی د الکترونیکي وسایلو په برخه کې له ډېرو مودو راهیسې مخکښ دي. تر ټولو ډېر باور د تصویري وسایلو، لکه ټلوېزیوني کامرو او اړوندو وسایلو د تولید او پلور په برخه کې لري.

کونوسکه د دغه شرکت بنسټګر دی. هغه خپل فعالیتونه د الکترونیک په برخه کې هغه وخت پیل کړل، چې په هیتاچي شرکت کې یې کار کاوه. هغه په ۱۹۱۸ کال کې د ماتسوشیتا الکترونیکي وسایلو د جوړونې فابریکه جوړه کړه. په لومړیو کلونو کې یې یوازې لامپونه، برقي اتوګان، ولډرونه، او دې ته ورته ساده او لومړني شیان جوړول. په ۱۹۲۷ کال یې د نېشنل تر برنډ لاندې نور لامپونه تولید کړل چې د جاپان په بازارونو کې یې ځانګړې مینه‌وال لرل. د دویمې نړیوالې جګړې په اوږدو کې ماتسوشیتا کمپنۍ د اسیا وچې په ډېرى هېوادونو کې د الکترونیکي وسایلو پلور او تولید ته پراختیا ورکړه. دوی بې سیمه الکترونیکي وسایل، لومړنۍ الکترونیکي توټې، لامپونه او اړوند وسایل نورو هېوادونو ته هم صادرول. د دوی کارونه د جګړو له امله یو څه ګډوډ شول، دوی نوي پر پښو درېدلي وو، خو دویمې نړیوالې جګړې یې کار خراب کړل.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، ماتسوشیتا بیا پرېکړه وکړه، چې خپل کارځای بیا ورغوي. دوی نوي محصولات د جاپان بازارونو ته وړاندې کړل. دوی راډیو، بایسکل او نور د کور د اړتیا وړ توکي بازار ته وړاندې کړل. ماتسوشیتا یا اوسني پاناسونیک شرکت پرېکړه وکړه څو داسې وسایل تولید کړي چې له جګړې وروسته کورنیو او هېوادونو ته په درد وخوري. د شرکت رییس د خپل یوه خپلوان لپاره سانیو شرکت جوړ کړ. دغه شرکت به ډېر ابتدایي او د اړتیا وړ توکي تولیدول، خو دغه شرکت دومره وده وکړه چې د پاناسونیک په ستر رقیب بدل شو. نور نو دغه شرکت په دې بریالی و چې ډېرى شرکتونه مات کړي او د الکترونیکي وسایلو او توټو په تولید کې خپل ځای پیدا کړي. له ډېرو رقابتونو او ضربو وروسته په ۲۰۰۸ کال کې پاناسونیک په دې بریالی شو، چې سانیو شرکت واخلي.

پاناسونیک د ۱۹۵۰، ۶۰ او ۷۰ یمو لسیزو په لړ کې د کورنیو وسایلو د تولید په برخه کې د نېشنل برنډ ته پراختیا ورکړه. تر همدې نامه لاندې به دوی خپلو تولیداتو ته ادامه ورکوله. نېشنل برنډ د نړۍ ډېرو هېوادونو ته پراختیا ورکړه، په نږدې ټولو اسیایي هېوادونو کې تاسې د نېشنل برنډ لرونکي الکترونیکي وسایل چې هغه وخت قیمتي وو، پیدا کولی شوی. وسایلو یې لوړ کیفیت درلود. ټلوېزیون، راډیو، مخابراتي وسایل، برقي جارو، یخچال، غږېز وسایل، تصویري وسایل، د غږ د ثبت وسایل او دې ته ورته نور شیان هغه څه وو، چې پاناسونیک کمپنۍ د نېشنل تر نامه لاندې تولیدول.

په ۱۹۶۱ کال کې کونوسوکه ماتسوشیتا امریکا ته سفر وکړ. هغه کوښښ وکړ چې هلته د الکترونیکي وسایلو له سترو شرکتونو سره وګوري. نو همدلته یې پرېکړه وکړه چې د امریکا د بازارونو لپاره به د پاناسونیک تر برند لاندې ټلوېزیونونه جوړوي. دوی همداسې وکړل، دغه ټلوېزیونونه ډېر مشهور شول. امریکایي بازارونو ته یې لاره پیدا کړه او د مشتریانو له تاوده هرکلي سره مخ شول. ماتسوشیتا شرکت په ۱۹۶۵ کال کې د تکنیکس تر برند لاندې لاسپیکرونه تولید کړل. دغه برخه نو ډېره مشهوره شوه، دا لاسپیکرونه په ډېر لوړ کیفیت تولیدېدل او په نړیواله کچه په یوه برنډ بدل شول.

د ۱۹۷۰یمې لسیزې په نیمایي کې پاناسونیک ټلوېزیونونه، د اسیا او منځني ختیځ هېوادونو ته هم ورسېدل. دوی ډېرې بریاوې په دې برخه کې تر لاسه کړې. وروسته له دې چې پاناسونیک ټلوېزیون په اسیا او امریکا کې ډېر شهرت پیدا کړ، نو په دې توګه یې کوښښ وکړ چې اروپايي هېوادونو ته خپله لمن وغځوي. په ۱۹۷۹ کال کې د دغه برنډ ټلوېزیونونه اروپايي بازارونو ته ورسېدل. دوی هلته هم په بریالۍ توګه خپل بازار ګرم وساته، په لوړ کیفیت سره یې وکړی شول چې خپل حریفان مات کړي او بازار خپل کړي.

د ۱۹۸۹ کال د اپرېل په ۲۷مه کونوسوکه، ماتسوشیتا چې دغه کمپنۍ یې جوړه کړې وه او تر ټولو ستر بنسټګر او پیاوړی مدیر یې و، د ۹۴ کلونو په عمر ومړ. له هغه وروسته د دې کمپنۍ مدیریت نورو کسانو ته پاتې شو. په ۱۹۹۰ کال کې ماتسوشیتا کمپنۍ پرېکړه وکړه، چې د امریکا د رسنیو شرکت یا ایم سي ای وپېري. دوی دغه شرکت په ۶،۵۹ میلیارده ډالره واخیست. پنځه کاله دغه شرکت له پانسونیک سره و، پنځه کاله وروسته یانې د ۱۹۹۵ کال په اپرېل کې یې د همدې شرکت ۸۰ سلنه سهام د ۷ میلیاردو ډالرو په ارزښت پر سیګرم کمپنۍ وپلورل.

د ۲۰۰۶ کال په جون کې پانوسنیک نور د انالوګ ټلوېزیونونو تولید چې هغه وخت یې د دې کمپنۍ ۳۰ سلنه تولید تشکیلاوه، ودراوه او یوه میاشت وورسته یې د هغه پر ځای د ډیجیټل ټلوېزیونونو تولید ته مخه کړه. دوی نو دا نوښت وکړ او هڅه یې دا وه چې خپلې موخې تر لاسه کړي. د ۲۰۰۸ کال په نومبر کې چې کله له خپل رقیب شرکت، سانیو سره چې همدې پاناسونیک جوړ کړی و، په مذاکراتو لګیا وو، څو دغه دوه شرکتونه په یو بل کې مدغم کړي، وروسته پرېکړه وشوه چې پاناسونیک به د سانیو ۵۰،۲ سلنه سهام اخلي او په دې توګه به نو د سانیو مدیریت د پاناسونیک لاس ته لوېږي. د ۲۰۰۹ کال په ډسمبر کې دواړه شرکتونه سره یو شول او اوس سانیو د پاناسونیک تبعه شرکت بلل کېږي.

د ۲۰۱۰ کال په جون کې پاناسونیک د پانسونیک الکترونیک ورکس او سانیو پاتې سهام هم د ۹،۴ میلیاردو ډالرو په مقابل کې واخیستل. دوی همداسې کوښښ کاوه چې شرکت لوی کړي او په دې توګه هغه واړه شرکتونه چې د دغه شرکت په آشیه کې فعالیت کوي، تر یوه چتر لاندې راولي. د ۲۰۱۰ کال په وروستیو کې یې پایونیر شرکت وروسته له هغه واخیست چې ټلوېزیونونه یې نور نه تولیدول او دغه لړۍ یې درولې وه. پاناسونیک یې ټولې شتمنۍ واخیستې او په دې توګه یې له ځان سره یو ځای کړې.

پاناسونیک په ۲۰۱۰ کال کې پرېکړه وکړه چې د خپلو کارکوونکو شمېر ۴۰ زرو کسانو ته چې هغه وخت یې د ټولو کارکوونکو ۱۰ سلنه جوړوله، راټیټ کړي. دوی د خپلې دغې پرېکړې علت د کارونو په سمه توګه تر سره کول او د وظیفوي تداخل مخنیوی وباله. دوی غوښتل چې د کارونو د تر سره کولو پروسه نوره هم ساده شي او د کارکوونکو د زیاتوالي مخه ونیول شي.

پاناسونیک خپل فعالیتونه له دې وروسته په پوره ځواکمنتیا پیل کړل. دغه وخت نو پاناسونیک په یوه برنډ بدل شوی و. هر چا یې د وسایلو د کیفیت او ښه‌والي صفتونه کول. پاناسونیک اوس هم د الکترونیکي وسایلو یوه ستره برخه تولیدوي. الکترونیکي وسایل، د الکترونیکي صنعت وسایل، ټلوېزیونونه، ډي وي ډي، د غږونو د ثبت وسایل، د عکس او ویډیو کامرې البته ډیجیتل، د کور لپاره برقي وسیال، لکه برقي جارو، یخچال، مایکروویو، د لوښو مینځلو ماشین، د کالیو مینځلو ماشین، مخابراتي وسیال، امنیتي وسایل او کامرې، د فوتوکاپۍ، فکس او پرینټ وسایل، بې سیمه او سیم‌دار ټلیفونونه، کمپیوټر او دې ته ورته سلګونه ارزښتناک او مهم الکترونیکي وسیال هغه څه دي چې پاناسونیک یې تر بېلو برنډونو لاندې تولیدوي.

نشنل د پاناسونیک ډېر پخوانی برنډ دی، دغه برنډ یا ځانګه په ۱۹۲۵ کال کې جوړه شوه او موخه یې دا وه چې تر جګړې وروسته کورنیو ته د اړتیا وړ توکي تولید کړي او تر ۲۰۰۸ کال پورې یې په ستره پیمانه الکترونیکي وسایل تولید کړل.

تکنیکس، دا د پاناسونیک بل برنډ دی. دغه برخې لکه مخکې مو چې هم یادونه وکړه، لاوډسپیکرونه تولیدول. دوی لوړ کیفیت درلود، د دغو وسایلو تولید او کیفیت د دې سبب شو چې تکنیکس پر نړیوال برنډ بدل شي. دوی په دې برخه کې لاوډسپیکرونه، د غږ د ثبت وسایل، د غږ د خپراوي وسیال، د لنډو څپو راډیوګانې او نور تولیدول او په ډېر کم وخت کې یې محصولات د نړۍ ۵۰ هېوادونو ته ورسېدل. خو له دې ټولو بریاوو سره سره په ۲۰۰۲ کال کې دغه شرکت ودرېد او محصولات یې هم د پاناسونیک په نامه بازار ته وړاندې کېدل، خو په ۲۰۱۴ کال کې پاناسونیکس بېرته اعلان وکړ چې دغه برنډ به له سره رغوي.

سانیو، سانیو هم د پاناسونیک یو ځانګه وه، چې وروسته یې ډېره وده وکړه او د دې جوګه شوه چې له پاناسونیک سره رقابت وکړي. بالاخره پاناسونیک یې دې ته مجبور کړ چې دغه کمپنۍ واخلي. د دغه شرکت اصلي دفتر هم د اوساکا موریګوچي کې دی او اوس د پاناسونیک تر چتر لاندې فعالیت کوي. د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۱مه پاناسونیک د سانیو ۵۰،۲ سلنه سهام واخیستل، چې په دې توګه یې د دغه شرکت د ډېرى برخو مدیریت په لاس کې واخیست. په ۲۰۱۰ کال کې یې پاتې سهام هم واخیستل او دغه شرکت یې په پوره توګه تر خپل کنټرول لاندې راوست.

پاناسونیک د الکترونیک برخې یو ستر شرکت دی. الکترونیک نن سبا په نړۍ کې ډېر پر مخ روان دی. برښنايي نړۍ د پرمختګونو په حال کې ده او په دې برخه کې فعال شرکتونه هم هڅه کوي چې ځان د نړۍ د اوس وخت له غوښتنو سره سم کړي. پاناسونیک په ۲۰۱۲ کال کې ۵۲،۲۱۶ میلیونه جاپاني ینه د څېړنې او تحقیق په برخه کې پانګونه کړې وه، چې دغه شمېره د دغه شرکت د ټولو عوایدو ۶،۶ سلنه برخه جوړوي. د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر لومړۍ نېټې ۱۴۰ اختراعاګانې د دې اداري په نامه ثبت شوې دي.

دغه شرکت اوس هم د الکترونیکي وسایلو د تولید په برخ کې پراخ فعالیت لري، کلنی عاید یې ۷،۸۴۶ ترېلیونه ډالرو ته رسېږي او په دې برخه کې یې ۵۳ سلنه عاید د جاپان له بازارونو، ۲۵ سلنه، د اسیا له بازارونو، ۱۲ سلنه د امریکا له بازارونو او ۱۰ سلنه د اروپا او افریقا له بازارونو تر لاسه کېږي.

اوس نو پانسونیک یو شرکت نه دی، بلکې د شرکتونو یوه ډله ده. پوهېږئ، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د دغو شرکتونو شمېر چې د پاناسونیک په نامه فعالیت کوي، ۵۸۰ ته رسېږي او ۳۳۰ زره کارکوونکو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په مستقیمه او غیر مستقمه توګه کار ورسره کوي.

پاناسونیک کمپنۍ په ټولنیزه برخه کې هم فعاله ده. په سپورتي برخو کې له بېلابېلو ټیمونو ملاتړ کوي او دوی ته د ښو لوبو او سیالیو زمینه برابروي. دوی بشریت ته په مساوي خدمت ژمن دي او هڅه کوي چې د خپلو مشتریانو اړتیاوو ته په کتو دوی ته وسایل تولید کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰ |
| € | ۹۴ |
| Rp. | ۴۹۳ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۲ |
| £ | ۱۱۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د یوې پیاوړې او خارق العاده ورځې د پیلولو لپاره مثبتې جملې

ژباړه: صفي الله پادشاه

په ژوند کې هر کار، هره لاسته‌راوړنه او هر پرمختګ ځینو هڅوونکو او ملاتړو عواملو ته اړتیا لري. د دې لپاره چې وکولای شو خپله ورځ په انګېزه، مثبت فکر او هڅوونکو عادتونو سره پیل کړو، لازمه ده څو لاندې جملې هر سهار له ځان سره تکرار کړو، پر بنسټ یې عمل وکړو او په ترڅ کې یې بریالی، موخه لرونکی او مثبت ژوند ولرو. د یوې پیاوړې او خارق العاده ورځې د پیل کولو لپاره یادې پنځوس جملې په لاندې ډول دي:

۱.زه د غوره او مثبت تصمیم نیولو پوهه لرم.
۲.زه پر یوه غوره ورځ باندې د نن ورځې د بدلولو لپاره ټول د اړتیا وړ څه له ځان سره لرم.
۳.زه تل پر ځان بسیا او پیاوړی یم، او تل به همداسې وم.
٤.زه د ارزښت وړ یم او پر ځان باور مې د لا زیاتېدو په حال کې دی.
۵.زه د خپل ځان او ژوند په هکله هر ډول منفي احساس له ځانه لرې کوم او ټولې ښېګنې په ورین تندي منم.
٦.زه د تل لپاره یوازې غوره شرایط جذب کوم او په خپل ژوند کې تر ټولو غوره مثبت خلک له ځان سره لرم.
۷.زه ګټونکی یم، زه حاضر یم چې لاس پکار شم او د خپلې وېرې پر وړاندې ودرېږم.
۸.زه له نامحدود ځواک څخه برخمن یم.
۹.زه یو پیاوړی نوښتګر یم، زه د خپلې خوښې ژوند جوړوم او خوند ترې اخلم.
۱۰.زه هره ورځ د ځارلو او الګو اخیستلو لپاره حیرانوونکي مسیرونه پیدا کوم.
۱۱.زه پر خپلو وړتیاوو باور لرم او تل په هوښ او عقل سره تصمیم نیسم.
۱۲.زه پر خپلو موخو باندې تمرکز کوم او خپلې چارې په پوره لېوالتیا سره پر مخ وړم.
۱۳.زه، ان تر فشار لاندې هم په ښه توګه کار کوم او تل له انګېزې څخه برخمن یم.
۱٤.زه په خپل ټول وس او توان سره ژوند کوم.
۱۵.زه موخې ته دې رسېدو لپاره ټول هغه څه چې ورته اړتیا ده، له ځان سره لرم.
۱٦.زه د خوښې وړ ټولو بریاوو او خوشاله ژوند ته د رسېدو لپاره پوره ځواک لرم.
۱۷.زه کولای شم ټول هغه منفي او پخواني باورونه چې زما د بریا مخه نیسي، له ځانه لرې کړم.
۱۸.نړی زما د مسلکي کېدو او پرمختګ لپاره له بې پایه فرصتونو څخه ډکه ده.
۱۹.شاوخوا مې پر هغو مثبتو او ملاتړو کسانو احاطه شوې ده، چې پر ما باور لري او غواړي زما بریا له نږدې وګوري.
۲۰.زه روښانه فکر لرم او د بریالي کېدو لپاره تل نوي لارې لټوم.
۲۱.کله چې زه له نوو ستونزو سره مخ کېږم، د آرامۍ، پر ځان باور او پیاوړتیا احساس کوم.
۲۲.زه خپلې هرې موخې ته له رسېدو سره سم خپله بریا په خوښیو او منني کولو لمانځم.
۲۳.ما پرېکړه کړې څو مثبت فکر وکړم او د ځان لپاره یو په زړه پورې او مثبت ژوند جوړ کړم.
۲٤.زه ډېر منندوی یم چې ژوند مې له خوښیو او بریاوو ډک دی.
۲۵.زه هېڅکله له ماتې سره نه مخ کېږم، ځکه هره رامنځته کېدونکې پېښه زما له لا پیاوړي کېدو او پر ځان باور سره مرسته کوي.
۲٦.زه لېواله یم څو د تل لپاره غوره او بریالی و اوسم.
۲۷.زه په خپل ژوند کې د مثبت بدلون د رامنځته کولو وړتیا لرم.
۲۸.زه د ارزښت وړ یم او پر ځان باور مې د لا زیاتېدو په حال کې دی.
۲۹.نور کسان زما د پر ځان باور له امله ماته د یوه رهبر په سترګه ګوري.
۳۰.هره ورځ به لا ډېر پر ځان باور، ځواک او بریالیتوب تر لاسه کړم.
۳۱.د ډاډ او ځواک احساس، زما د ورځني ژوند یوه برخه ګرځېدلې ده.
۳۲.زه په خپل هر کار کې پر ځان باور، نوښت او ژمنتیا لرم.
۳۳.زه د ارزښت وړ یم او له نننۍ نړۍ سره به د ارزښت وړ مرستې وکړم.
۳٤.زه په دوامداره توګه خپل ځان د ژوند په هغو اړخونو کې چې نېکمرغي، ازادي او موخه له ځان سره لري، زده کړې او پرمختګ ته هڅوم.
۳۵.زه هر سهار د یوې نوې او له په زړه پورې فرصتونو څخه ډکې ورځې د پیل کولو لپاره له خوبه را وینښېږم.
۳٦.زه خوښ او ازاد یم، ځکه زه په خپله هڅې کوم او هېڅکله د بل چا پر هڅو او بریا تکیه نه کوم.
۳۷.زه هغه پیاوړی شخص یم چې د خپل ځان لپاره بریالیتوب او نېکمرغي جذبوي.
۳۸.زما ژوند د پرمختګ لپاره د فرصتونو یوه ټولګه ده، ځکه هېڅکله له نوښت څخه لاس نه اخلم.
۳۹.له انرژۍ ډک او لېواله یم، او پر ځان باور زما دویم طبیعت دی.
٤۰.زه پر خپل ځان باندې د باور لرلو په وسیله نورو ته ور زده کوم څو پر ما باور ولري.
٤۱.زما کړنې قصدي دي او ما خپلو موخو ته رسوي.
٤۲.زه پر سفر باندې باور درلودل زده کوم.
٤۳.ذهن مې پر ځان باندې له شک کولو څخه په بشپړه توګه پاک دی او زه چمتو یم څو هره ستونزه مې چې مخې ته راځي، په ورین تندي یې ومنم.
٤٤.زما شاوخوا پر هغو کسانو احاطه شوې ده چې ما دې ته اړ باسي څو تر ټولو غوره او فوق العاده و اوسم.
٤۵.زه د ارزښت وړ او فوق العاده نظریات لرم.
٤٦.هره هغه ستونزه او خنډ چې زه ورسره مخ کېږم، په حقیقت کې زما د پرمختګ او بریا لپاره یو فرصت دی.
٤۷.زه د خپل ژوند د ودانۍ نجار یم، د دغې ودانۍ اسکلېټ په مثبت فکر او منځپانګه یې په مثبت عمل باندې جوړوم.
٤۸.له ستونزو سره د مخ کېدو لپاره زما وړتیا بې پایه او د بریالیتوب لپاره مې پوټانشیل انرژي نا محدوده ده.
٤۹.نن ورځ زه خپل پخواني عادتونه له ځانه لرې کوم او پر ځای یې نوي او مثبت عادتونه خپلوم.
۵۰.زه پر خپل ځان باور لرم او د نورو له منفي نظرونو څخه د خپل ځان پر ګټه مثبته انرژي تر لاسه کوم.

هر سهار دغو مثبتو تاکیدي جملو ته غوږ ونیسئ، څو مو د ژوند پرمختګ او لاسته‌راوړنې سل برابره شي. هره ورځ باید ستاسو لپاره یوه له لاسته‌راوړنو ډکه او فوق العاده ورځ وي. هیله‌من یم چې هره ورځ مو له انرژۍ او خوښۍ ډکه وي.

## د جنوبي زون ځوانان: ښکېلې خواووې دې روانه جګړه ودروي او سولې ته دې لومړیتوب ورکړي

په کابل کې د جنوبي زون ولایتونو څخه راغلو یو شمېر ځوانانو په خپلو سیمو کې روانو جګړو او نا ناامنیو پر خلاف لاریون وکړ. دغه ځوانان چې له کندهار، هلمند، ارزګان، زابل او نیمروز ولایتونو څخه کابل ته راغلي، له حکومت او وسله والو طالبانو نه غواړي چې جګړه ودروي او په نړیوالې ټولنې غږ کوي، چې د سولې په راوستلو کې دې پر دواړو اړخونو فشار راولي.

د لاریون یو تنظیموونکي حکمت الله صالحي په دې اړه رسنیو ته وویل چې جګړې یې د ژوند چارې سختې کړې او عام خلک سخت ځپل شوي دي. هغه زیاته کړه: «په تېرو ورځو کې د لشکرګاه او کندهار ښارونو نه د جګړې له امله لسګونه زره کورنۍ بېځایه شوي، د خوراکي توکو بیې لوړې شوي، د بېکارۍ کچه په بې‌ساري ډول زیاته شوې، په روغتونونو کې د ټپیانو درملنې لپاره ځای نه دی پاتې او همداسې د ژوند ټولې چارې کړکېچنې شوې دي.» هغه وایي: «له نړیوالې ټولنې غواړو چې د سولې په راوستلو کې اړینه همکاري وکړي. له طالبانو او حکومت نه غواړو، چې سمدستي اوربند وکړي. په کندهار کې مو غږ پورته کړ خو چا وانه ورېده، بیا اړ شوو چې کابل ته راشو او غږ اوچت کړو.» دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د لسګونو ولسوالیو تر سقوط وروسته اوسمهال جګړې د ځینو ولایتونو تر مرکزونو رارسېدلې دي. طالبانو تازه د هرات، کندهار او هلمند ولایتونو پر مرکزونو بریدونه پیل کړي او له څو ورځو راهیسې له امنیتي ځواکونو سره د ښار په منځ کې جګړه کوي. د راپورونو پر بنسټ، افغان ځواکونو په کندهار، لښکرګاه او هرات ښارونو کې د طالبانو پر ضد د ځمکې او هوا له لارې تصفیوي علمیات پیل کړي چې له کبله یې دواړو لورو ته مرګ ژوبله هم اوښتې ده.  دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د ملګرو ملتونو سیاسي استازولي یا یوناما وویل چې د روان میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تېر کال د همدې مودې په پرتله د ملکیانو مرګ‌ژوبله ۴۷ سلنه زیاته شوې ده. یوناما زیاته کړې، چې د ۲۰۲۱ د جنورۍ له پیل څخه د جون تر پایه پورې ۱۶۵۹ ملکیان په افغانستان کې د جګړو، هوایي بریدونو او چاودنو له امله وژل شوي او ۳۵۲۴ نور ټپیان شوي دي.

# ایران ته د اسراییل خبرداری؛

## نفتالي بنیت: تل ابیب به د تهران له خوا پر بېړیو هر ډول برید ته مناسب ځواب ووایي




د اسراییل لومړي وزیر په مستقیمه توګه ایران د عمان په خلیج کې د تېلو پر ټانکر باندې د ډرون په برید تورن کړی دی. د تېلو په دغه جاپاني ټانکر باندې چې د لایبریا بیرغ پرې رپېده، د تېرې پنجشنبې د ورځې په برید کې دوه تنه عمله وژل شوي دي. د اسراییل لومړي وزیر نفتالي بنیت په ښکاره د دغه کار په غبرګون کې له ایران څخه په داسې حال کې د غچ اخیستلو ګواښ کړی، چې د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب‌زاده په برید کې د ایران لاس درلودل رد کړي دي.
بنیت د کابینې په اونیزه غونډه کې ویلي: «ایرانیانو چې په بې پیلوټه الوتکې باندې یې په (مرسر سټریټ) ټانکر برید کړی، نیت یې درلود چې یو اسراییلي هدف ته زیان ورسوي.» خو په وینا یې، د دې پر ځای د دوی دغه عمل یو برېتانوی او یو رومانیایي ووژل. د اسراییل لومړي وزیر دغه راز خبرداری ورکړی: «موږ پوهېږو، په هره کچه چې وي، پوهېږو چې څنګه خپل پیغام ایران ته زموږ په خپلې طریقې ورسوو.» د اسوشیټېډ پرېس د رپوټ له مخې، تر اوسه چا د دغه برید پړه نه ده منلې، خو ایران او د هغه ملېشه متحدینو پخوا د ډرون دا ډول بریدونه کړي دي. بلخوا د امریکا د متحده ایالاتو پوځ ویلي چې د امریکا سمندري ځواکونه د اسراییل تر اداري لاندې د تېلو له ټانکر سره چې د عمان په خلیج کې پرې برید شوی، مرسته کوي. د امریکا پوځ زیاته کړې چې ډېر امکان لري چې دا برید په ډرون الوتکې شوی وي. د امریکا مرکزي قوماندانۍ دغه راز ویلي، چې د امریکا یو ایس ایس رونالډ رېګن الوتکه لېږدوونکې بېړۍ دا ټانکر بدرګه کوي او د امریکا د سمندري ځواکونو د چاودېدونکو توکیو متخصصین ورغلي، چې ډاډ ترلاسه کړي د ټانکر عمله د نور اضافي ګواښ سره مخامخ او که نه او هغوی د برید په هکله پلټنو ته تیار دي. اسراییل داسې مهال پر دغې بېړۍ د شوي برید پړه پر ایران اچوي، چې تر دې وړاندې هم دواړو هېوادونو یو او بل د ورته بریدونو له کبله پړ بللي دي.

مسير ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۱مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ دویمه | ۷۵۵مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۳ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۷ | ۳۰ |
| ۲۲ | ۲۲ | ۲۱ | ۲۸ | ۲۴ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۸ | لمر ختل ۰۵:۰۴ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۴:۵۳ | ماښام ۰۶:۵۵ | ماخوستن ۰۸:۳۱

## نړۍ



# ایران ته د اسراییل خبرداری؛

## نفتالي بنیت: تل ابیب به د تهران له خوا پر بېړیو هر ډول برید ته مناسب ځواب ووایي

۵

## د امریکا عدلیې وزارت: روسي هکرانو د نږدې ۳۰ امریکایي څارنوالانو معلومات هک کړي



د امریکا عدلیې وزارت اعلان کړی، چې د تېر کال په یوه سایبري برید کې د نږدې ۳۰ جګپوړو امریکایي څارنوالانو او د هغوی د دفترونو برېښنالیکونه هک شوي دي. دغه سایبري برید د سولروینډز په نوم د سافټویر په کاروونکو شوی او د امریکا د حکومت خلاف د سایبري جاسوسۍ تر ټولو ناوړه برید بلل شوی و. واشنګټن د دغه برید تور پر مسکو پورې کړی دی. اوس د امریکا عدلیې وزارت وایي، په دغه سایبري برید کې د ۲۷ امریکایي څارنوالو د دفترونو لږترلږه یو کمپیوټر هک شوی دی. دغه کار دا وېره پیدا کړې چې هکرانو به د مخبرانو د نومونو په ګډون د امریکایي څارنوالانو ډېرو حساسو مالوماتو ته لاسرسی موندلی وي. د امریکا یوه پخواني فدرالي څارنوال ګیل سوفېر بي بي سي ته ویلي: «دا موضوع په فوق العاده ډول ډېره جدي ده.»
د نوموړي په وینا، که د دغو پټو مخبرانو هویت هکرانو ته په لاس ورغلی وي، دا مالومات د هغوي د هویت د افشا کولو لپاره کارولی شي. سایبري مجرمانو په دغه برید کې د امریکا د حکومت او خصوصي سکتور ۱۸ زره کمپیوټري شبکو ته لاسرسی موندلی و.
په دوی کې د نیویارک د څلورو مهمو څارنوالانو دفترونه هم شامل وو، چې د کارکوونکو ۸۰ سلنه مایکروسافټ ایمېل ادرسونه یې هک شوي وو.

## راپورونه: په مدیترانې سمندر کې نږدې ۴۵۰ پناه غوښتونکي له ډوبېدو ژغورل شوي

دري غیري دولتي سازمانونو ویلي، څه باندې ۴۰۰ هغه پناه غوښتونکي یې ژغورلي چې له لیبیا څخه اروپایي هېوادونو ته روان وو او بېړۍ یې د بحر په منځ کې خرابې شوې وې. دغو سازمانانو ویلي، چې پناه غوښتونکي په لرګینو بېړیو کې سپاره وو.
دغو سازمانانو په ټویټر کې لیکلي، چې د ژغورنې دریو بېړیو ټوله شپه او تر سهاره پورې ۴۴۹ پناه غوښتونکي له ډوبېدو څخه ژغورلي دي. د ډېری ژغورل شویو پناه غوښتونکو بدنونه د تېلو، کېمیاوي موادو او د بحر د اوبو تر منځ د تعامل له وجې سوځېدلي دي. وروسته تر هغې چې یو شمېر اروپایي هېوادونو خپلې پولې د پناه غوښتونکو او مهاجرینو پر مخ وتړلې، اوس دغه خلک کوښښ کوي چې د لیبیا له لارې ځانونه اروپایي هېوادونو ته ورسوي.
د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداره وایي، چې یوازې د روان کال په لومړیو میاشتو کې اروپا ته پر لاره ۱۱۴۶ پناه غوښتونکي د مدیترانیې په بحیرې کې مړه شوي دي. بل پلو د پناه غوښتونکو د ژغورنې اداري وایي، چې له ۲۰۱٦ز کال راپه دېخوا یې څه باندې ۳۰زره کسان د مدیترانې په سمندرګي کې له ډوبېدو نه ژغورلي دي. د دوی په خبره، ډېری دغه کسان افریقایي او د منځنۍ ختیځ د هېوادونو اتباع دي چې د جګړو او بې وزلیو له کبله دغه خطرناک سفر ته زړه ښه کوي.


## قریشی: طالبان اجازه نخواهند داد تا گروه داعش در افغانستان نفوذ کند



رسانه‌های پاکستانی به نقل از شاه‌محمود قریشی، وزیر خارجه گزارش داده‌اند که طالبان اجازه نخواهند داد تا گروه داعش در افغانستان نفوذ کند. او افزوده‌است که پیش از این، نیروهای امنیتی افغان نیز توانایی مبارزه با گروه داعش را داشته‌اند. او یک بار دیگر تأکید کرده‌است که صلح در افغانستان برای ثبات منطقه ضروری است و پاکستان برای اطمینان از توسعه، رفاه و ارتقاء افغانستان با سایر کشورهای منطقه، در حالی رایزنی است. این گفته‌های آقای قریشی در حالی ابراز می‌شوند که رئیس جمهور غنی در یک نشست کابینه، از طالبان انتقاد کرد و افزوده‌است: «تغییر نکرده‌است، و ارادهٔ برای صلح و آبادی کشور، ندارند.»
او می‌افزاید که طالبان به گروه‌های هراس‌افگن، اجازهٔ ورود به کشور را داده‌اند. اما طالبان بارها ارتباط داشتن با گروه‌های هراس‌افگن بین‌المللی را، رد کرده‌اند. فوزیه کوفی، نمایندهٔ پیشین مردم ولایت بدخشان در ولسی جرگه و عضو هیئت مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان، ادعا کرد که جنگجویان خارجی در بخش‌های مرزی بدخشان با تاجیکستان حضور دارند و حتا خانواده‌های شان را نیز در این بخش‌ها انتقال داده‌اند. او هشدار داد که اگر حضور جنگجویان خارجی در بدخشان طولانی مدت شود، تهدیدها در کشور افزایش خواهند یافت: «حالا زمینهٔ گشت‌وگذار و فعالیت جنگجویان خارجی از هر زمان دیگر، بیشتر شده؛ با توجه به این که به‌ویژه مناطق مرزی و مناطق استراتیژیک.. متأسفانه به تصرف طالبان درآمده.»

## ژوند


## د شفتالو روغتیایي ګټې



روغتیایي کارپوهان وایي چې د سترګو د ښه‌والي لپاره یوازې ګازرې نه، بلکې شفتالو هم ګټور وي، ځکه چې شفتالو د ویټامین اې لرونکې مېوه ده چې د سترګو کمزورې ختموي. دغه راز د بدن خراب کلیسترول کموي چې د زړه لپاره ګټور وي. شفتالو په طبیعي ډول د وینې جوړولو ځانګړتیا لري او په بدن کې د زهرجنو موادو پر وړاندې مقابله کوي او د انټي اکسایډو شتون یې د عمر په تېرېدو سره د پوستکي ګونځې ختموي، نو هڅه وکړئ چې په اوړي کې د شفتالو مېوه په خپلو خوراکي توکو کې شامله کړئ. شفتالو په خپل جوړښت کې لږه کالوري او ډېر غذایي توکي لري، چې په همدې سبب د بدن اضافي وزن کموي او له شفتالو څخه جوړه شوې جوشانده د خېټې چینجي ختموي، معده پیاوړې کوي او ترخنګ یې قبض او تبه هم ختموي. د سرطان مخنیوی کوي، د شکر لپاره ګټور وي، انسولین ښه کوي، د پوستکي د ښه‌والي، ویښتو، نوکانو او د بدن د انرژۍ لپاره ګټور وي او د هغو ناروغیو خطر کموي چې د مرینې لامل کېږي او د ځیګر لپاره هم ګټور تمامېږي.

## اوپو کمپنۍ خپل نوی ځیرک ساعت معرفي کړ

اوپو کمپنۍ د خپل اوپو واچ۲ لړۍ دوه نوي ځیرک ساعتونه مینه‌والو ته معرفي کړل. دغو ځیرکو ساعتونو کې د وېیر۴۱۰۰ ډوله پروسېسر تر څنګ یو کاستیوم اپولو۴ ایس پروسېسر هم ورکړل شوی چې د چارج ساتلو وړتیا غوره کوي. د دغه ځیرک ساعت ۴٦ ملي متره ماډل به په عادي کارولو سره ۴ ورځې او پاور سېور موډ کې تر ۱٦ ورځو پورې چارج وساتي. دغه ځیرک ساعت کې او او سي۲٫۰ ډوله چټک چارج ټکنالوژي هم کارول شوې، چې یوازې ۱۰ دقیقو کې دغه ساعت دومره چارجوي چې کاروونکی یې د یوې ورځې لپاره کارولی شي. د اوپو واچ۲ دواړې بڼې به ۴۲ ملي متره او ۴٦ ملي متره بڼې ولري. د دغه ساعت ۴۲ ملي متره بڼه کې ۱٫۷ انچه مخ‌پانه ورکړل شوې ده. د




دغه ځیرک ساعت ۴۲ ملي متره یوازې بلوتوت بڼې بیه ۱۳۰۰ چینایي یوان او ۴۲ ملي متره سیمکارت لرونکې بڼې بیه ۱۵۰۰ چینایي یوان ټاکل شوې ده.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank